# د پیر محمد کاکړ د شاعرۍ اخلاقي اړخ ته کتنه

## An Analysis of the Moral poetry of Peer Muhammad Kakar

محمد اسماعیل*

**Abstract:**

Peer Muhammad Kakar is one of the classic poets of Pashto literature adopt Rehman Baba school of though in his poetry. As Rehman Baba is one of the well-known sufic poets of Pashto literature, Peer Muhammad Kakar's poetry also reflect sufic though. This article unpacks the moral aspects of the poetry of Peer Muhammad Kakar deficted in his poetry.

**Key words:** Pashto, Poetry, Peer Mohd Kakar, Sufism, Literature

ښه شاعري هغه بللای شو چې شاعري یې افاقي مباحث ولري او د ټولني په ګټه تمامېږي. په دې افاقي اقدارو کښې یو اخلاقیات یا اخلاقي اقدار دی چې هره ټولنه ورته زیات ضرورت لري په تصوف کښې هم د اخلاقیاتو بنیادي مباحث شتون لري. دغه ډول پیر محمد کاکړ هم په خپله شاعري کښې دې اړخ ته ژوره کتنه کړې ده.

د پیر محمد کاکړ اخلاقي شاعري هم ډېره جامع ده او د اخلاقیاتو پر هر اړخ ئې خیال او فکر ساتلی دی. د دهٔ شاعري د بېلابېلو نصیحتونو نه ډکه ده. د دهٔ اخلاقي شاعري د انسان د عملي فکر پوهې له ځینو ډېرو او اهم اړخونو سره اړهٔ لري چې نصیحت پکښې په ډېره ښکلې خوندناکه او فنکارانه انداز سره شوي دي چې شاعري د انساني ژوند په دور کښې د هر چا دپاره اهمیت او مقام لري. د درس ورکول کښې هغه د محنت کول صبر و قناعت، افسوس، مجازي، حقیقي، شکوه، مذهبي، اخلاص، شاعري د هر څه نه په اخلاقي شاعري په بېلابېلو اړخونو نظر اچولی دی په اخلاقي شاعري کښې د انساني ژوند په ښهٔ کولو کښې اخلاقي کردار ادا کړی دی. د دهٔ په وېنا کښې د پښتو زړورتیا مضبوط والی ډېر پیاوړی ښکاري د اخلاقي په اړه ګویان دی.

د بېلګې په ډول موږ وئیلای شو چې انساني وجود چې څومره روغ وي هغوره ئې اعصابي قوت مضبوط وي ښه وجود د ښه دماغ علامت دی که چېري انساني ذهن یا دماغ ناروغه وي بیا ئې په ژوند کښې برابروالی نه شي راتللای د دماغي ناروغتیا له کبله انساني وجود هر وخت په خطره کښې وي. ځکه دا هم یو ډول اخلاقي فریضه ده. پیر محمد کاکړ په خپل اخلاقي شعر کښې وائي چې د مور او پلار سره ښه کول د دواړو جهانو د کامیابۍ ذریعه ده.

* M.Phil. Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

"چي تحفه مي د سفر نوالۍ نه شي
څه په کار د دلسوزي د پلار او مور" (1)

د دې شعر په څېر رحمان بابا داسي وائي چي:

"مور او پلار خو نیک فرزند له خدایه غواړي
چي بدبخت شي ادې څۀ کا بابا څۀ کا"(2)

د پیر محمد کاکړ او رحمان بابا دواړو په اشعارو کښي دا خبره ښکاره ده چي مورته پکار ده چي حضور الهي ته خپل ځان له ګناه څخه خلاص او پاک ورښکاره کړو. هلته نۀ ده مور او نۀ د پلار زړۀ سوی پکار راځي. البته د رحمان بابا له شعر څخه دا خبره جوتیږي چي که د مور او پلار سره ښه وضعه وکړي ځوک نو هغه به په دواړو جهانو کي کامیابه او بریالي وي. او که ئې نۀ کړي نو بیا مور او پلار خپل اولاد څۀ کوي.

په تصوف کښي دا خبره بزرګان همیشه کوي چي د خدایه څخه وبېرېږئ، او د ګناهو څخه پرهېز وکړئ، خو دا خبره هم کوي چي د خپل ښتن د درباره څخه مه پرې کوئ. د تصوف په ژبه کښي و دغه ته خوف و رجا وئیل شوي دي. په هم دې هکله د پیر محمد کاکړ یو څو بیتونه دلته ذکر کوو.

"زخیره د عمر نه لرم په مخ کښي
مخ مي نه ګرځي بې خدایه په بل لور

خراب دل مي د دنیا و غم ته وینو
په سره اور سره مي وسو د خدائ کور

منور مي مخ په نور د طاعت نه شو
زړۀ مي تور په معصیت شو لکه سکور

الٰهي ما "پیر محمد" په غفران پټ کړه
په دربار کښي دي ولاړ یم په سر تور" (3)

پیر محمد کاکړ بل ځای وائي چي:

"رب فانه رجس ورته ویلي
اجتناب له نجاسته کړه اختیار"(4)

که څۀ هم رب تعالی و میو ته رجس وئیلي دي هم دغه شانتي نجس غوندي شی دي ځکه ئې حرام بللي دي.
پیر محمد کاکړ بیا وائي چي:

"هر عمل چي د شیطان ئې وي حرام دی
له حرامو مومن بویه پرهېز ګار"(5)

ځوک چي د شیطان په خلۀ کړي هغه به په بدو روان وي او د شیطان هر عمل حرام دی خدای او رسول هم دا فرمائیلي دي چي له حرامو څخه ځانونه وژغورئ او پرهیز وکړی.

"د شرابو شراب و کفر ته داعي وي
شواهد مي په دې باب کښي دي اخبار"(6)

شراب څښل حرام دي شراب انسان و کفر ته استوي که څه هم په شریعت کښي شراب نوشي حرامه ده نو دۀ هم له شرابو څخه د لاس اخستلو منع کړې ده.

"د څلوېښتو ورځو لمونځ ئې ناقبول وي
په دوزخ کښي به ولاړ وي شرمسار"(7)

په اسلام کښي دا خبره له ورایه څرګنده ده چي ځوک حرام وخوري د هغه څلوېښت ورځي لمونځ نۀ قبلېږي پیر محمد کاکړ هم په خپلو اشعارو کښي و دې خبري ته اشاره کړې ده چي له حرامو څخه باید چي هر مسلمان ځان وژغوري.

"هر ګناه یې شراب خوري ته باور وکړه
چي پرې نه کاندي توبه او استغفار"(8)

په اسلام کښي که هره ګناه ځوک وکړي هغه له شراب خوري سره برابروي او ټولو ته وائي چي هر یو وګړی دي دا هڅه وکړي چي ګناه ځیني ونه شي.

"پښېماني پر ګنه نن کړه "پیر محمده!"
هیڅ مرداري په کار نه دي اعتذار"(9)

انسان چي خپل رزق مردار پیدا کړي بیا په اخر کښي دا ارمان پسي کوي چي کاش چي ما دغه مال حرام نه وای ګټلی وروسته په پښېماني کښي مخته د ځان ژغورنه ډېره غوره ده.
اخلاق موږ ته د صبر او قناعت خپلولو سره سره د دنیا له حب څخه ډډه کولو درس هم راکوي په اوسني پیر کښي زیاتره شخړي پر مال او دولت وي له دې پرته د انساني ټولني په زوال کښي د مال او دولت حب کول او غربا و مساکین سره مرسته نه کول هم په دې باطیني ناروغیانو کښي راځي. په دې هکله پیر محمد کاکړ وائي.

"دنیا سر ده د جمله و خطا یادو
بیا خاصه ده د بخیل په حق ضرر"(10)

دنیا که د خطاؤ یو بازار دی خاص د بخیلانو کسانو دپاره ډېر لوی د خطا ځای دی. امام حسن فرمائي چي د بخیل دنیا هغه وخت له مځکي راوځي څۀ وخت چي دی په مځکه ننوځي.

"مخ د هسي رنګ دنیا رانښکاره مۀ شۀ
چي ئې زیات وي عاقبت تر خیر شر"(11)

د داسي دنیا مخ دي نه شي رانښکاره په کومه دنیا کښي چي زیات تکلیفونه او خواري وي او چي همیشه و انسان ته تر خیر ئې شر ډېر وي.

"جدائي په غم شریک کړم د غمجنو
د هر چا پر غم کي ژاړم لکه نی"(12)

پیر محمد کاکړ دلته خپل زړۀ جدائي او بېلتون داسي سوزلی دی چي اوس لکه نی یا بانسرۍ چي د هر چا په غم کښي ژاړي. او د هغو د جدائي سره د خپلي جدائي غم یو ځای کوي.

پیر محمد کاکړ بل ځای وائي:

"نه پر ځان باندي منت د هر نامرد ږدم
نه یم خر چي د ګازر په جامو بار یم"(13)

پیر محمد کاکړ دومره پر خپل ځان باندي قوي بروسه لري، چي د یو چا منت پر ځان نۀ پرېږدي، او خپل ځان که خاوري ایرې کوي هم له بله سره به نامردي نۀ کوي، او نۀ د بل نامردي خوښوي. په کوم کښي چي منت وي.

په دا هکله خوشحال خان خټک هم په یوۀ شعر کښي وائي چي:

"د منت دارو که مرم په کار مو نۀ دي
که علاج لره مي راسي مسیحا هم"(14)

خوشحال خان خټک هم د پیر محمدکاکړ په څېر د منته څخه ځان ژغوري او مرګ قبلوي خو د منت دارو نه غواړي.

پیر محمد کاکړ تواضع خوښوي، خو صرف د الهي او د بل چا نۀ، ولي چي تواضع او عاجزي د الله په دربار کښي ډېر لوړ مقام لري، کله چي حضور پاک ﷺ معراج ته ولاړ نو الله پاک پوښتنه ځني وکړه چي اې محمده! تا زما دربار له څۀ راوړي دي؟ حضور ﷺ ورته ووئیل چي عاجزي او تواضع مي راوړې ده.

پیر محمد کاکړ و موږته د شعر په ژبه داسي وائي چي د مالدار، ملک، خان و مخته مي هیڅ هکله تواضع له لاسه نه کیږي، ولي چي زۀ صرف بنده د احد او لاشریک یم، او تواضع هم د هغه په مخکي ښائي.

"تواضع چي مي غني په دنیا غواړي
له دې سپیه د ملک په دود وېزار یم

هیڅ بندګي د بل صاحب راځخه نۀ شي
خاص بنده زۀ "پیر محمد" د کردګار یم"(15)

بل ځای پیر محمد کاکړ د علم تر لاسه کولو او د هغه د خوند خبره په خپل شعر کښي داسي کوي، وائي:

"که مطلب دي وي غنا د دواړه کونو
تر هر څه اول د علم لذت واخله"(16)

د علم په هکله رحمان بابا هم وائي چي:

"له یوې نکتې تمام علم حصلیږي
درست خروار له یوۀ مشته نمایان شي

پکار نۀ دي مخالف هزار تقریره
موافق له حاله نیم کلام داستان شي"(17)

بل ځای پیر محمد کاکړ د محنت په اړه داسي وائي چي:

"بې محنته راحت کله مونده کېږي
د راحت دپاره بار د محنت واخله"(18)

د راحت او د محنت په هکله خوشحال خان بابا وائي:

"چي محنت په ځان قبول کا راحت مومې
رنج او ګنج سره دا دواړه دي تړلي"(19)

په اخلاقیاتو کښي دا خبره هم شته چي محنت کول او په هغه پسي راحت راتلل به خامخا وي. دلته پیر محمد او خوشحال بابا دواړه د نصیحت په توګه وائي چي بې محنته راحت نۀ شي راتللای. که څۀ هم لومړی غم وي یا خواري. خو وروسته بیا خزانه او ثمر به درته رسیږي. انسان ته پکار ده چي هیڅ کله هم په سختو حالاتو باندي بې صبري نۀ وکړي. ولي چي دا خبره مشهوره ده چي د هرو سختیو په اخر کښي اساني او کامیابي راځي. که څه هم دا دنیاوي وي او که اخروي وي.

پیر محمد کاکړ په خپله غزل کښي د اخلاقو په هکله څو بیتونه راوړي دي وائي چي:

"قناعت پر لږ طعام د کسب بویه
له بې عذره ګدائۍ توبه توبه

ښایسته په ښهٔ سیرت سره سړی شي
د صورت له زېبائي توبه توبه

دانائي چي ئې هیڅ په کار د دین رانه شي
له دې هسي دانائې توبه توبه

چي وفا له یاره کاندي پیر محمده!
د دې یار د جدایۍ توبه توبه"(20)

د اخلاقو په تله کښي دا وینا هم شته چي د قدرت الهي له طرفه کوم څهٔ ستا په نصیب کښي وي پر هغه باندي شکر وکاږې او چاته لاس نهٔ ونیسې، او بیا زیاتوي چي انسان په اخلاق سره ښائسته وي، چي و هغه ته موږ سیرت هم وایو، داسي ډېر شیان شته چي د هغه صورت ښائسته وي خو د اخلاق په دائره کښي نهٔ راځي.

اخلاقیات وائي باید داسي ښه علم څوک وکړي کوم چي پر ښه عمل کولو باندي توفیق او استقامت ورکوي. که عمل ئې نهٔ وي نو بیا دا علم نهٔ شو او تش د یو شي پوست دی او تا اغوستی دی. کنې هسي بې عمله علم د جاهل غوندي وي، هغه پوه یا علم چي د دین په کار نهٔ شي را، له دغه څخه فائده نهٔ وموندل شي. له دغه څخه لیري اوسه. پیر محمد کاکړ په دې پورتنیو اشعارو کښي یو شعر دئ، وائي:

"هر عالم چي بې عمله وي تس پوست دی
د جاهل له پارسائې توبه توبه"(21)

اوس دلته دا خبره کوو چي د پیر محمد کاکړ پر شاعري باندي د رحمان بابا اثر ښکاري، او پیر محمد په خپلو اشعارو کښي ډېر اشعار د رحمان بابا و فکر او لاري ته نژدې وئیلي دي. لکه څنګه چي پیر محمد د بې عمله علمه څخه نهٔ دی خوشحاله یعني په هغه علم باندي عمل نهٔ کوي، هم دا رنګه رحمان بابا هم بې عمله علم نهٔ مني، او وائي:

" بې عمله که کتاب کښېږدي په سر څهٔ شو
ګویا ایښی ئې تر پښو لاندي کتاب دی"(22)

یا

"علم وکړې هيڅ عملورباندي نهٔ کړې
لکه طفل هسي لوبي په کتاب کړې"(23)

و انسان ته پکار ده چي خپله حلاله نفقه او روزي وګټي، خو داسي نهٔ چي هغه خپل معبود برحق هېر کړي، او د دنیاوي ګټو په بدل کښې د اخرت ګټه وبايلي، چي په هغه باندي ثواب نهٔ شي ورپيدا وروسته له مرګه بيا ډېر ارمان کوي. او وائي کاشکي چي داسي خبر واى، ما به په دنيا فاني کښې يو داسي کار هم نهٔ واى کړى، چي په هغه کښې د اخرت سود او فائده نهٔ واى. سره له دې ما به و نورو خلګو ته هم د ښو کوونکو تلقين ورکولاى، ولي چي هر چاته نيکه او ښه لار ور ښوول هم د ثواب ذريعه ګرځي. پس له مرګه به دغه نصيحت او ښه اخلاق د دهٔ دپاره د قبر د رڼا سبب جوړېږي. په هم دې هکله پير محمد کاکړ خپله اخلاقي فريضه داسي وړاندي کوي او وائي:

" ته چي هسي کاروبار د دې دنيا کړې
چېري نه چي هېر له دله خپل اشنا کړې

راشه راشه نېکنامي په دنيا پېره
نشته سود تر دا په پورته که سودا کړې

نېکنامي که په دولت حاصله نه کړې
دا رنګ فکر دي ثواب نه دى خطا کړې

اخير ځائ دي توره خونه د لحد ده
که بنا دلته ماڼى د کسرا کړې

پس له مرګه که ارمان کړي په کار نه دى
نن دي وخت دى د درد منو که دوا کړې

که د بدو پر ځائ ښهٔ ور عنايت کړې
د ګور خونه به په دا ډېره رڼا کړې

که هر څو تاته محتاج زهٔ "پير محمد"! يم
ښائي تاته چي مي غوږ په دا وينا کړې"(24)

## حوالې


1:(بېنوا عبدالرؤف، عبدالرؤف، د پیر محمد کاکړ دیوان ، ۲۰۰۳، مخ ۶۷)

2:(پروفېسر محمد اللهٔ خلیل ، د عبدالرحمان بابا دیوان، پښتو اکېډمي کوټه، ۲۰۱۷ ، مخ ۵۶۴)

3:(بېنوا عبدالرؤف، عبدالرؤف، د پیر محمد کاکړ دیوان ، ۲۰۰۳، مخ ۶۷)

4:همدغه اثر، مخ ۶۱

5:همدغه اثر

6:همدغه اثر

7:همدغه اثر

8:همدغه اثر

9:همدغه اثر

10:همدغه اثر، مخ ۷۶

11: همدغه اثر

12:همدغه اثر، مخ ۱۵۵

13:همدغه اثر، مخ ۹

14:خټک، مغموم، یار محمد ، ډاکټر، د خوشحال بابا کلیات، یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار، پېښور، ۲۰۰۵، مخ ۹۸۵

15:همدغه اثر، مخ ۹۱

16:همدغه اثر، مخ ۱۱۸)

17:(پروفېسر محمد اللهٔ خلیل ، د عبدالرحمان بابا دیوان، پښتو اکېډمي کوټه، ۲۰۱۷ ، مخ ۶۹۲-۹۳)

18:(بېنوا عبدالرؤف، د پیر محمد کاکړ دیوان ۲۰۰۳، مخ ۱۱۸ )

19: خټک، مغموم، یار محمد ، ډاکټر، د خوشحال بابا کلیات، یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار، پېښور، ۲۰۰۵، مخ ۸۰۶

20:(بېنوا عبدالرؤف، د پیر محمد کاکړ دیوان ۲۰۰۳، مخ ۱۲۱ )

21:همدغه اثر

22:(پروفېسر محمد اللهٔ خلیل ، د عبدالرحمان بابا دیوان، پښتو اکېډمي کوټه، ۲۰۱۷ ، مخ ۷۲۵)

23:همدغه اثر، مخ ۶۰۵)

24:(بېنوا عبدالرؤف، د پیر محمد کاکړ دیوان، ۲۰۰۳، مخ ۱۰۷)